# مسیر

ورځپانه

www.maseerdaily.af

نوی لید، نوی مزل

دوشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ لسمه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۳۰مه | ۶۳۷مه ګڼه


## ولایت

۴ مخ

### باميان

دغـه ولایـت د بـودا د دوو مجسـمو او ځینـو نورو تاریخـي اثارو پـه درلـودو سره د یونیسـکو د تاریخـي اثارو درلودونکو ښـارونو پـه لېسـت کې ځـای خپل کـړی دی.



# د مذاکراتي ټيمونو ضدي او نقيضي څرګندونې؛

## طالبان پر تګلارې د توافق خبره کوي، خو حکومتي پلاوی لا ډېر بحثونه اړين بولي



۳

### د مصالحې شورا به د سولې پرېکړه د ارګ له انحصاره وباسي؟

۲ مخ


### د افغانستان- ايران اړیکې او د «اوبو سیاست»

۲ مخ

### څنګه له ستونزو بريالي را ووځو؟

۳ مخ

## کرنې وزارت: په ننګرهار کې د پیازو او کچالو ۳۹۷ زېرمتونونه ګټې اخیستنې ته وسپارل شول



د کرنې وزارت وايي چې په ننګرهار کې د پیازو او کچالو ۳۹۷ زېرمتونونه ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي. د یاد وزارت د چارواکو په خبره، دغه زېرمتونونه د کرنیزو محصولاتو مدیریت د طرحې په اډانه کې جوړ شوي دي.

د یاد وزارت د اوبو لګولو او طبیعي سرچینو مرستیال حشمت‌الله غفوري، چې ننګرهار ته د خپل سفر په ترڅ کې یاد زېرمتونونه رسماً ګټې اخیستنې ته وسپارل، وايي چې د کرنیزو محصولاتو مدیریت د طرحې په اډانه کې د هېواد په کچه نږدې ۱۲ زره پروژې د پلي کېدو په حال کې دي او ننګرهار لومړی ولایت دی، چې یاده طرحه پکې بشپړه شوې ده.

نوموړی وايي، چې د ننګرهار په ولایت کې د پیازو او کچالو د ۳۹۷ زېرمتونونو د جوړولو لګښت ۱۳۹ میلیونه افغانۍ دی.

غفوري د دغو پروژو په پلي کولو کې د قومي مخورو او پراختیایي شوراګانو له همکاریو مننه کړې او ویلي یې دي چې د بزګرانو او بڼوالو د ملاتړ په پار یاد پروګرام راتلونکی کال هم پلی کېږي.

## وزارت صحت عامه: تا کنون، ۴۶هزار ۲۱۵ تن در افغانستان به ویروس کرونا آلوده شده‌اند



وزارت صحت‌عامه اعلام کرده‌است که در ۲۴ ساعت گذشته از ۱ هزار و ۳۸۷ رویداد مشکوک به کرونا، ۲۵۲ رویداد آن مثبت تشخیص شده‌اند.

بربنیاد آمارهای وزارت صحت‌عامه، در این مدت ۱۱ بیمار این ویروس جان باخته و ۸۷ بیمار هم بهبود یافته‌اند.

به گفته این وزارت، رویدادهای تازه در ولایت‌های کابل (۴۸)، هرات (۱۳)، کندهار (۸)، ننگرهار (۱۳)، تخار (۱۵۳)، بدخشان (۱۵)، میدان وردک (۱) و لغمان (۱)، ثبت شده‌اند.

وزارت صحت می‌گوید که در شبانه روز گذشته، سه بیمار در کابل، سه در هرات، یک در ننگرهار و چهار در ولایت تخار، جان باخته‌اند.

آمارهای وزارت صحت نشان می‌دهند که از آغاز شیوع ویروس کرونا تا کنون، ۴۶هزار ۲۱۵ تن در افغانستان به این ویروس آلوده شده‌اند که از این میان یک‌هزار و ۷۶۳ بیمار جان باخته‌اند و ۳۶ هزار و ۷۳۱ بیمار هم بهبود یافته‌اند.

این وزارت همچنان افزوده است که تاکنون ۱۴۷ هزار و ۸۰۰ نمونهٔ مشکوک به کرونا در افغانستان مورد آزمایش قرار گرفته‌اند.

وزارت صحت می‌گوید که در حال حاضر، هفت هزار و ۴۱۸ رویداد فعال ویروس کرونا در افغانستان وجود دارد. این در حالیست که به خاطر افزایش شیوع ویروس کرونا در کشور تمام نهادهای تحصیلی افغانستان نیر رخصت شده است.

## د ملکیانو د خوندیتوب ډله: د جګړې ښکېلې خواوې دې ژر تر ژره اوربند وکړي



۵ مخ

## د بشري حقونو کمېسیون: هدفي وژنو اندېښمن کړي یو او روان تاوتریخوالی باید ودرول شي


د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون وايي چې په هېواد کې د هدفي وژنو پر زیاتوالي اندېښمن دي او دوی هیله لري چې ژر تر ژره دې پر ملکي اهدافو بریدونه پای ته ورسېږي.

د یاد کمېسیون مشرې شهرزاد اکبر په تازه څرګندونو کې ویلي چې افغانان له جګړو ستړي شوي او ټول په یوه خوله د تاوتریخوالي بندېدو غوښتنه کوي. هغې دغه راز ویلي، په دې وروستیو کې پر خبریالانو، د بشري حقونو پر فعالانو او ملکي وګړو بریدونه ډېر شوي او دې چارې دوی سخت اندېښمن کړي دي.

اکبر په دوحه کې د بین الافغاني مذاکراتو له دواړو لوریو غوښتي چې د تاوتریخوالي کمښت باید لومړیتوب وګرځوي، څو نور هېڅ یوه افغانه کورنۍ خپل عزیزان له لاسه ورنه کړي. نوموړې دا څرګندونې وروسته له هغه کوي چې ورمه ورځ طالبانو تایید کړه چې د بین الافغاني مذاکراتو پر کړنلارې له افغان حکومت سره موافقې ته رسېدلي دي.

که څه هم چې په دوحه کې د بین الافغاني مذاکراتو له پرانیستغونډې نږدې درې میاشتې تېرېږي، خو دواړه خواوې لاهم د مذاکراتو د اجنډا په اړه وروستۍ هوکړې ته نه دي رسېدلي او ورسره سم جګړو او نښتو هم زور اخیستی.

تېره ورځ هم له زابل، غزني، اروزګان او ګڼو نورو ولایتونو څخه د جګړو او نښتو راپورونه خپاره شول چې پر ښکېلو غاړو سربېره پکې ملکیانو ته هم درنه مرګ ژوبله اوښتې ده.

سرلیکنه

## د مصالحې شورا به د سولې پرېکړه د ارګ له انحصاره وباسي؟

پرون ولسمشر غني له پخواني ولسمشر حامد کرزي، د مصالحې د عالي شورا له مشر ډاکټر عبدالله او جهادي مشر عبدالرب رسول سیاف سره کتلي دي. ارګ وایي چې دوی د مصالحې عالي شورا پر جوړښت او لومړنۍ غونډه خبرې اترې کړې دي. تر دې وړاندې اروپايي اتحادیې په یوه اعلامیه کې د مصالحې عالي شورا د ژر جوړېدو غوښتنه کړې وه چې ورپسې امریکا هم دا غوښتنه تایید او تکرار کړه. اوس داسې ښکاري چې ارګ له پرله پسې فشارونو وروسته حاضرېږي چې دا شورا جوړه کړي.

د مصالحې عالي شورا د عبدالله او اشرف غني د سیاسي توافق یوه مهمه برخه او د ولسمشر غني ژمنه وه چې لا هم د مصالحې توافقي عالي شورا نشته. ارګ یوه هڅه کړې وه او یو ځل یې شورا جوړه کړه، خو هغه کار یې د دې شورا د مشر او سیاستوالو له مخالفت سره مخ شو. پر ارګ له وړاندې فشار و چې دا شورا جوړه کړي، خو داسې ښکارېدله چې ارګ په قصدي او شعوري ډول د دې شورا د جوړېدو مخنیوی کاوه او یا یې هم داسې ګامونه اخیستل چې د شورا د جوړېدو پر ځای د لانجې او اختلاف سبب شي. د ارګ د دغه کار هدف دا و چې غوښتل یې د سولې په چاره کې ټولې پرېکړې په ولسمشر پورې منحصرې کړي او په دې برخه کې بل چا ته واک او صلاحیت ور نه کړي.
که د مصالحې عالي شورا جوړه شوې وای، نو په طبیعي ډول به شورا صلاحیتونه او واکونه لرلی او ولسمشر به بیا د سولې په چاره کې خپلسري تصمیمونه نه شوای نیولی. د سولې په چاره کې تر اوسه اساسي ستونزه همدا وه چې ټول واکونه یوازې له ولسمشر سره وو. ارګ د سولې په برخه کې د ټول نظام او جمهوریت دریځ انحصار کړی و او یوازې هغه څه کېدل چې اشرف غني به غوښتل.

اوس هڅه روانه ده چې د سولې په تړاو د دولت دریځ د یوه شخص له انحصاره را و ایستل شي. دا چې اروپايي ټولنه، امریکا او افغان سیاستوال د مصالحې د عالي شورا د جوړېدو غوښتنه او هڅې کوي، اساسي لامل یې همدا دی چې تصمیم باید د یوه فرد پر ځای شورا ونیسي؛ ځکه چې په دې سره به هم له سولې سره د اوسني روان مخالفت مخه ونیول شي او هم به د خلکو رښتینی استازیتوب وشي. که د جمهوریت واکمنان د جمهوریت ادعا کوي، نو د جمهوریت لپاره دا یو اړین کار دا دی چې تصمیم باید د ولسمشر له انحصاره را ووځي. یوه داسې شورا باید جوړه شي چې په هغو کې د ټولنې د مختلفو برخو استازي او مشران برخه ولري، څو د خلکو اراده تمثیل شي. له همدې امله د مصالحې د عالي شورا اړتیا ده. اوس چې ټاکل شوې شورا جوړه شي او ارګ هم اړ کېږي چې دا شورا ومني، نو پکار ده چې شورا ته په رښتیا د خلکو استازي لاره ومومي.
د ټولنې د هرې برخې استازي باید په دې شورا کې وي او هېڅ لوری هم باید ترې د باندې پاتې نه شي. له بله اړخه دا شورا باید پوره صلاحیتونه هم ولري او ولسمشر باید حاضر شي چې د یوه شخص پر ځای نور همدا شورا د سولې د مهمو مسایلو په تړاو پرېکړه وکړي. همدا سمه لاره ده او همدا د جمهوریت رښتینی استازیتوب دی.

# د مذاکراتي ټیمونو ضدې او نقیضې څرګندونې؛

## طالبان پر تګلارې د توافق خبره کوي، خو حکومتي پلاوی لا ډېر بحثونه اړین بولي



د سولې د تکنۍ پروسې په اړه تازه ضد او نقیض څرګندونې شوې دي. سره له دې چې څه باندې دوې میاشتې مخکې په دوحه کې د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي او طالبانو ترمنځ د مخامخ مذاکراتو پرانیسته وشوه، خو تر اوسه دواړه لوري د مذاکراتو پر تګلاره په بشپړه توګه توافق ته نه دي رسېدلي. په دې مانا چې طالبان پر دغه هوکړه د موافقې خبره کوي، خو افغان حکومت بیا وایي چې تر دې دمه توافق نه دی شوی. بلخوا دلته د ملي مصالحې عالي شورا د جوړېدو او لومړنۍ غونډې په اړه هم بحثونه روان دي.

وروسته له دې چې په دوحه کې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ مخامخ مذاکرات پیل شول، ټولو افغانانو ته دا هیله پیدا شوه چې دلته به د جګړې لمن ټوله شي او هېواد ته به دایمي ثبات راشي، خو اوس له دې څه باندې دوه میاشتې تېرېږي، جګړې شدیدې شوي، هیلې مړاوې شوې او د جګړې ډګر د سولې تر مېز تود او له ناندریو ډک دی. د جنیوا کنفرانس تر پیل مخکې د طالبانو او افغان حکومت له ځینو سرچینو داسې راپورونه خپاره شول چې ګواکې پر تګلاره هوکړه رامنځ ته شوې ده.

ورمه ورځ د طالبانو د قطر دفتر ویاند ډاکټر نعیم وردګ بیا په خپلو څرګندونو کې ویلي چې د سولې مذاکراتو پر تګلاره توافق شوی او ټاکل شوې چې په دې برخه کې لا ډېر پرمختګونه رامنځ ته شي. د ډاکټر نعیم په خبره، ان د نومبر میاشتې په ۱۵مه د کوربه هېواد (قطر) په مرسته د طالبانو او افغان لوري ترمنځ توافق رامنځ ته شوی، چې د نومبر پر ۱۷ هوکړه وربانډې شوې او دوې کاپې یې قطر او افغان حکومت ته ورکړل شوې دي. د ده په خبره، دواړو لورو پر دې تګلاره توافق کړی دی. د ډاکټر نعیم په وینا: «د مذاکراتو د تګلارې په اړه باید وضاحت ورکړم. د نومبر په ۱۵مه د تسهیل کوونکي هېواد په مرسته توافق رامنځ ته شوی دی، د نومبر په ۱۷مه دواړو لورو ته یوه یوه کاپي ورکړل شوې ده او پر ۲۱ مواردو توافق ته رسېدلي یو)).

د افغان حکومت مذاکراتي پلاوي بیا د ډاکټر نعیم پر دې څرګندونو غبرګون ښودلی دی. د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي ویاند نادر نادري بیا وایي چې د سولې توافق لا ډېرو خبرو ته اړتیا لري. د نادري په خبره، د مذاکراتو پر تګلاره داسې توافق شوی، چې رامنځ ته شوي موارد به د دواړو مذاکراتي ټیمونو عمومي غونډې ته وړاندې کېږي او تر هغه وروسته به ټول خپل نظر څرګندوي، څو هوکړه پرې رامنځ ته شي. د نادري په خبره: ((د مذاکراتو پر تګلاره بشپړ توافق نه دی رامنځ ته شوی، لا ډېرو بحثونو ته اړتیا لري او د مذاکراتي ټیمونو عمومي غونډې ته باید وړاندې کړل شي)).

له دې سره جوخت ځینو سرچینو رسنیو ته ویلي وو، چې د سولې له توافق سره د افغان حکومت مذاکراتي ټیم هوکړه کړې، خو ولسمشر غني یې مخالفت کوي. که څه هم چې ارګ د دې څرګندونو په اړه حکومت غبرګون نه دی ښودلی، خو تېره ورځ افغان سیاسي څېرو په ارګ کې له ولسمشر غني سره د سولې په تړاو لیدنه کړې ده. د ارګ له مطبوعاتي دفتره په خپرې شوې خبرپاڼه کې راغلي چې په دې لیدنه کې پخواني ولسمشر حامد کرزي، د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله او سیاسي څېره عبدالرب رسول سیاف شامل وو. د سرچینې په خبره: ((په دغه کتنه کې د سولې پروسې او د ملي روغې جوړې عالي شورا جوړښت د څرګنوالي او لومړنۍ غونډې د جوړېدو په اړه ډېر مثبت بحثونه وشول)).

له دې سره جوخت د ولسي جرګې یو شمېر غړي وېره لري چې هسې نه په حکومت کې د ځینو ځانګړو کړیو د مخالفت له امله د سولې پروسه له خنډونو سره مخ شي. دوی وایي، افغان حکومت باید په ټوله مانا د سولې له رامنځ ته شوي فرصت استفاده وکړي او په افغانستان کې د دایمي سولې د راتګ لپاره زمینه برابره کړي.

# د کرونا ویروس چټکه او وژونکې څپه؛

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس د مړو شمېر نږدې یو نیم میلیون کسانو ته ورسېد



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۶۲ میلیونه او ۶۹۵ زرو ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۴۶۰ زره او ۶۰۴ کسان مړه شوي او له ۴۳ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا ویروس له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د دغه ویروس ټولې ۱۳ میلیونه او ۶۱۱ زره او ۸۹۶ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۲۷۲ زره او ۲۶۹ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

له امریکا وروسته هند د نهه میلیونه او ۳۹۳ زره او ۳۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د شپږ میلیونه او ۲۹۰ زره او ۲۷۲ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د دوه میلیونه او ۲۶۹ زره او ۳۱۶ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه میلیونه او ۲۰۸ زره او ۶۹۹ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز هسپانیا، برېټانیا، ایټالیا، ارجنټاین او کولمبیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

بلخوا په اروپا کې چې بېرته پکې محدودیتونه او بندیزونه زیات شوي، په کرونا ویروس د مړینو شمېر تر ۴ لکو اوښتی دی.

د اروپا د ناروغیو د مخنیوي او کنټرول د مرکز پر اساس، په تېرو ۸ میاشتو کې چې دا وبا خپره شوې ده، په اروپا کې له څلور سوو زرو ډېر کسان مړه شوي دي. تر ټولو ډېر کسان په برېټانیا، ایټالیا، فرانسې، هسپانیا او روسیې کې مړه شوي دي.

په برېټانیا کې د دغه ویروس له کبله تر دې مهاله ۵۸ زره او ۳۰، په ایټالیا کې ۵۴ زره او ۳۶۳، په فرانسه کې نږدې ۵۲ زره او ۱۲۷، په هسپانیا کې نږدې ۴۵ زره او په روسیه کې ۳۹ زره او ۵۲۷ کسان مړه شوي دي.

په ورته مهال د اتلانتیک بلې غاړې، د امریکا په متحدو ایالتونو کې بیا یوازې په روانه نومبر میاشت کې له څلورو میلیونو ډېرې مثبتې پېښې ثبت شوې چې د تېرې میاشتې په پرتله دوه برابره ډېرې دي.

په امریکا کې د ورځې په منځني ډول نږدې یو نیم زر تنه مري چې د پخوا په پرتله پکې د پام وړ ډېروالی راغلی دی.

په امریکا کې د لومړي ځل لپاره په روغتونونو کې د بستري شویو کسانو شمېر هم له نوي زرو اوښتی او ډېرو ایالتونو او ښارونو سختو ټولنیز محدودیتونو او روغتیایي اقداماتو ته مخه کړې.

# د افغانستان- ایران اړیکې او د «اوبو سیاست»

حکمت الله ځلاند

**دویمه برخه:**

**ولې د اوبو امنیت مهم دی؟**

د اوبو او ورښتونو د کچې کمښت او د اوبو له کبله په نړیواله کچه راټوکېدونکې ستونزې د روانې پېړۍ له پیله د بحث تووده موضوع ده. په دې تړاو د نړیوال بانک د پخواني مرستیال د ۱۹۹۵ کال وړاندوینه مشهوره ده، چې وایي: په ۲۰مه پېړۍ کې ډېرې شخړې او جګړې د تېلو په اړه وې، خو د ۲۱مې پېړۍ ډېرې جګړې به پر اوبو وي. د نړیوال بانک د څېړنو له مخې، اوسمهال د نړۍ ۸۰ هېوادونه د اوبو له کمښت سره مخ دي او ۲.۸ میلیارده خلک په هغو سیمو کې ژوند کوي، چې په لوړه کچه د اوبو د کمښت له فشار سره مخ دي. داسې تمه کېږي چې دا کچه به تر ۲۰۳۰ کال پورې ۳.۹ میلیارده تنو (د نړۍ نږدې نیمایي نفوس) ته ورسېږي.

د ملګرو ملتونو د وړاندوینې له مخې، د ۲۱مې پېړۍ تر نیمایي پورې به د ځمکې د اوبو د ضایع کېدو او ککړېدو له کبله ښایي د ټولې نړۍ ۷۰ سلنه وګړي (شاوخوا ۷ میلیارده تنه) د خوړو اوبو له کموالي سره مخ شي. همدا لامل دی چې ورځ تر بلې د اوبو اړتیا او اهمیت زیاتېږي او افغانستان هم د هغو هېوادونو په کتار کې دی، چې د اوبو له کمښت سره مخ دی. د اوبو کمښت په ځانګړې توګه زموږ پر هېواد په لاندې برخو کې اغېزې ښندلې او په هېواد کې یې د اوبو اړتیا او اهمیت لا ډېر لوړ کړی دی:

**الف: د ګاونډیو هېوادونو لاسوهنې**

په داسې حال کې چې اقلیمي بدلونونو او د ورښتونو د کچې کمښت په نړیواله کچه ډېرې سیمې ځپلې دي، د ملګرو ملتونو په ګډون ډېرې نړیوالې ادارې او پالیسي جوړوونکي په دې اند دي، چې په نړۍ کې به راتلونکې ډېرې شخړې پر اوبو وي او هر څومره چې د اوبو کچه کمېږي، همدومره یې له کبله شخړې او کشمکشونه هم زیاتېږي. افغانستان هم له یوې خوا د وچکالۍ ځپلو هېوادونو په کتار کې راځي او له بلې خوا عملا له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو پر سر اختلافات لري. همدا لامل دی چې په افغانستان کې د ایران او پاکستان د لاسوهنو یو لامل ګڼل اوبه بلل کېږي او دغه هېوادونه هڅه کوي، چې افغانستان د دغو اوبو د مدیریت مجال پیدا نه کړي. په دې تړاو ایران تر جدي شکونو او نیوکو لاندې دی، چې د افغانستان په خاوره کې د بندونو د جوړولو پر پروژو مخفیانه بریدونه کوي او د دغو پروژو د ځنډولو هڅې کوي. کمال خان، بخش‌آباد او سلما هغه بندونه دي، چې د پروژو د تخریب او کار درولو په موخه یې پر ایران د لاسوهنو او مخفیانه بریدونو له کبله نیوکې شته دي. دغه راز د ۲۰۱۸ کال په مې میاشت کې د فراه ولایت پر مرکز د دولت د وسله‌والو مخالفینو له برید وروسته د افغانستان د دفاع وزیر دا جګړه د اوبو جګړه وبلله. په همدې توګه پر پاکستان هم ورته نیوکې او تورونه شته دي او په ځانګړې توګه تر کابل سیند لاندې سیمو کې د جوړېدونکو بندونو (پر کونړ سیند جوړېدونکی بند) پر پروژو پاکستان پر مخفیانه تخریبي بریدونو او یا په دغسې بریدونو کې پر لاس لرلو تورن دی. اصلا ایران او پاکستان په دې اند دي، چې په افغانستان کې د بندونو له جوړېدو سره د دوی ګټې له ګواښ سره مخ کېږي؛ ځکه په تېرو کلونو کې په افغانستان کې د اوږدو بې‌ثباتیو له کبله د افغانستان اوبه دغو هېوادونو ته په وړیا ډول ورغلې دي.

**ب: کرنیز سکټور او اقتصادي وضعیت**

د کرنې سکټور نېغ په نېغه د اوبو له وضعیت سره تړلی دی، چې ۹۵ سلنه اوبه پکې مصرفېږي او اوسمهال دا سکټور د ټول هېواد په کچه د اوبو له کمښت سره مخ دی. په ۱۹۷۰ کال کې په افغانستان کې ۳.۳ میلیون هکتاره ځمکه خړوبېدله؛ خو دا کچه په ۲۰۰۸ کال کې ۱.۸ میلیون هکتاره کرنیزې ځمکې ته راټیټه شوې وه. له دې جملې ۱۰ سلنه یې له عصري لارو چارو په ګټې اخیستنې سره خړوبېږي او د ژورو څاګانو په څېر په دودیزو تګلارو تکیه کېږي، چې د اوبو د کچې په کموالي کې رول لري. له اوبو څخه د اغېزناکې ګټې اخیستنې په موخه د اوبو د مدیریت او پراختیا په سیستمونو او میکانیزمونو کې د پانګونې نشتون یوه له هغو ننګونو ده، چې په دې برخه کې د ستونزو د زیاتېدو لامل شوې ده.

د کرنې سکټور د افغانانو د اقتصاد ۷۸ سلنه جوړوي او شاوخوا ۸۴ سلنه اوبه هم د ځمکو د خړوبولو لپاره کارول کېږي، چې په دې برخه کې پر بنسټیزو منابعو، لکه کاریزونو تمرکز د پام وړ پایله لرلې ده. د اوبو او انرژۍ وزارت د معلوماتو له مخې، په هېواد کې د اوبو لګونې سرچینې له سیندونو ۸۴.۶ سلنه، له ابشارونو ۷.۹ سلنه او له کاریزونو ۷.۵ سلنه دي. دا وېشنه د دې ښودنه کوي چې له بده مرغه په افغانستان کې د کاریزونو سیستم ته ډېره پاملرنه نه ده شوې. په داسې حال کې چې کاریزونه نه یوازې دا چې د اوبو د زېرمه کولو؛ بلکې د نورو اغېزناکو موخو لپاره هم کارول کېږي. د افغانستان ۷۷ سلنه نفوس په کلیو او بانډو کې ژوند کوي، چې کرنه او مالداري یې د ورځنې ژوند د لګښتونو او اقتصاد عمده برخه جوړوي. د افغانستان د ټول نفوس ۵۹ سلنه وګړي په دې برخه کې مشغول دي او له همدې کبله د کرنې سکټور ونډه په ناخالصو داخلي تولیداتو کې هم ۳۰ سلنه ده. په دې توګه اوبه د دې سیمې لپاره په اقتصادي وده، سیاسي ثبات او غذایي امنیت کې خورا مهم رول لري.

د دې تر څنګ، افغانستان له ګاونډیو هېوادونو څخه د برېښنا واردولو ته اړ دی او شاوخوا ۸۰ سلنه برېښنا له ایران، ترکمنستان، تاجکستان او ازبکستان څخه واردوي او هر کال میلیونونه ډالره پرې لګوي. افغانستان دا مهال د ۲۴۰ مېګاواټه برېښنا د تولید وړتیا لري، چې له اوبو څخه د ۲۳ زره میګاواټه برېښنا د تولید د وړتیا ایله یو سلنه جوړوي او دا وضعیت د صنعت پر سکټور او اقتصادي وده نېغ په نېغه اغېزه لري؛ ځکه نو د اوبو د تنظیم لپاره د کافي زېربناوو نشتون د هېواد د اقتصادي او بشري ودې پر وړتیا هم ناوړه اغېزې ښندلې دي. په داسې حال کې چې د اسیا د پرمختیایي بانک د شمېرو له مخې نږدې ۴۰ سلنه افغانان عملا د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي او د نړیوال بانک شمېرې ښیي، چې د بېکارۍ کچه هم خورا لوړه ده.

**ج: د څښاک پاکو اوبو ته نه لاسرسی**

دا مهال یوه ستره ننګونه پاکو اوبو ته نه لاسرسی دی. په افغانستان کې تر ځمکې لاندې اوبو سرچینې په لوړه کچه تر فشار لاندې دي او تر نیمایي زیاتې اوبه د پمپونو په مرسته را ایستل کېږي، چې له دغو سرچینو تر ټولو ډېره استفاده په کابل ښار کې ده. په وروستیو کلونو کې د کډوالو زیاتېدونکی شمېر او د نفوس چټکه پراختیا د ځمکې لاندې اوبو د کموالي او په پراخه کچه د اوبو د څاګانو د وچېدو لامل شوې ده. د یوې ازموینې له مخې په ۴۰مو کلونو (۱۹۶۵-۲۰۰۵) کې د دې سیمې اوبه ۶ تر ۷ متره پورې ښکته تللې وې. د اوبو د کچې د ټیټوالي ترڅنګ د اوبو د کیفیت په تړاو هم جدي اندېښنې شته دي او په دغه ښار کې تر ځمکې لاندې اوبه په پراخه کچه ککړې شوې دي. تر ۸۶ سلنه زیات خلک یوازې یو ساده د ککړو اوبو څاه لري، چې په معیاري ډول نه پاکېږي او له کبله یې ځینې مرکبات لکه نایترېټ، سلفېټ او ځینې باکټریاوې لږ ژورو اوبو ته رسېږي.

د ځینو نړیوالو ادارو د راپورونو له مخې، د پلازمېنې په ګډون د ټول هېواد په کچه د څښاک پاکې اوبه له یوې خوا په پراخه کچه کمې شوې دي او له بلې خوا په معیاري توګه نه کارېږي او د څښاک د پاکو اوبو ستونزې د روغتیا پر سکټور هم خورا منفي سیوری غوړولی دی. ځینې څېړنې ښیي چې که د پلازمېنې اوبو ته پام ونه شي، یوه لسیزه وروسته به په کابل کې د څښاک پاکې اوبه نه موندل کېږي.

**د اوبو کچه او وروستۍ وچکالۍ**

په افغانستان کې د ورښتونو کلنۍ کچه متفاوته ده، چې تر ټولو ډېره یې په شمال-ختیځو سیمو کې او کمه یې په سوېلي سیمو کې، په وچو او دښتو لرونکو برخو کې ده. په سوېل کې د ورښت کچه هر کال له ۱۰۰ تر ۳۰۰ ملي‌مترو پورې رسېږي او په لوېدیځو سیمو کې له ۲۰۰ تر ۴۰۰ ملي‌مترو پورې تخمینېږي. اوسط کلنۍ کچه یې ۷۷ ملي‌متره په زرنج کې او ۱۱۷۰ ملي‌متره په سالنګ کې تخمین شوې ده او د ټول افغانستان په کچه بیا هر کال د ورښت کچه ۲۸۵ ملي‌متره اټکل شوې ده. په اوسط ډول هر کال په افغانستان کې د ۱۶۵۰۰۰ میلیون متر مکعب ورښت په پایله کې ۵۷۰۰۰ میلیون متر مکعب د ځمکې پر مخ بهېدونکې اوبه تولیدېږي، چې في نفر کچه یې په کال کې ۲۲۸۰ تر ۲۷۷۵ متر مکعب پورې تخمین شوې ده.

په نورمالو کلونو کې د افغانستان ټولې کلنۍ اوبه ۷۵ میلیارد متر مکعبه اټکل شوې دي، چې ۵۷ میلیارد متر مکعب یې د ځمکې د سطحې او ۱۸ میلیارده متر مکعب یې د ځمکې لاندې سرچینو اوبه دي. داسې تخمینونه شته دي چې د افغانستان له ګډو اوبو څخه ۴۰ میلیارده متر مکعب یې ګاونډیو هېوادونو ته ځي او افغانستان په ټولیز ډول له خپلو ټولو سطحي او تر ځمکې لاندې اوبو څخه یوازې شاوخوا ۲۵ سلنه (۲۰ میلیارد متر مکعب) یې خپله مصرفوي او پاتې ۷۵ سلنه یې ګاونډیو هېوادونو ته بهېږي که څه هم د اوبو او انرژۍ وزارت چارواکو د معلوماتو له مخې، افغانستان له خپلو ټولو ۷۵ میلیارد متر مکعب اوبو څخه یوازې ۳۰ سلنه یې خپله کاروي او پاتې ۷۰ سلنه ګاونډیو هېوادونو ته ځي.

د وروستیو کلونو وچکالیو د افغانستان د اوبو کچه هم د پام وړ کمه کړې ده. د افغان چارواکو په وینا، د افغانستان د پنځو حوزو اوبه په ټولیز ډول ۱۴ سلنه کمې شوې دي او د ټولو ۵۷ میلیاردو متر مکعب سطحي اوبو کچه اوس ۴۹ میلیارد متر مکعب ته راښکته شوې ده. د وروستیو کلونو د وچکالیو له کبله، په ډېرو سیمو کې د ورښتونو کچه شاوخوا ۶۰ سلنه راکمه شوې ده او له کبله یې ډېری خلک کډوالیو ته هم اړ شوي دي. په افغانستان کې د اوبو کمښت بېلابېل لاملونه لري: د نفوس زیاتوالی، د اوبو د سرچینو ناسم او بې‌ځایه مصرف او کمزوری مدیریت، تر ځمکې لاندې اوبو کمېدل او ککړوالی او اقلیمي بدلونونه یې مهم لاملونه دي. دا فشار تر ټولو ډېر د کابل سیند په حوزه کې احساسېږي، چې کابل ښار ته اوبه ورکوي او په ټولیز ډول د افغانستان ۳۵ سلنه یا ۸ میلیونه نفوس د دې حوزې اوبه کاروي. د دغې کچې ۴.۵ میلیونه یې یوازې په کابل ښار کې ژوند کوي او داسې اټکلونه شته دي، چې دا شمېر به تر ۲۰۵۰ کال پورې ۸ میلیونه ته ورسېږي. په دې توګه کابل ښار د نفوس له پلوه د نړۍ پنځم پراخېدونکی ښار او د اوبو له پلوه تر ټولو ډېر فشار لرونکی ښار دی.

د ځینو څېړنو له مخې، یوازې د پلازمېنې اوبه په تېرو لسو کلونو کې ۱۵ متره ښکته تللې دي، چې په ځینو سیمو کې یې بیا دا کچه ان تر ۴۰ مترو پورې هم رسېږي. د کابل ښار په لوېدیځ کې په یوه مشخص مورد کې یو ۳۰ متره ژور څاه، کابو اته کاله وړاندې اوبه لرلې او وروسته وچ شوی؛ خو اوس په ۲۰۱۸ کال کې بیا په همغه ځای کې ۷۰ متره ژور څاه یو ځل بیا وچ شوی، چې له اته کاله وړاندې سره ۴۰ متره توپیر لري.

د اوبو د کچې ټیټوالی او ترې راټوکېدونکې ستونزې داسې مهال دي، چې د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان د معلوماتو له مخې، په بېرونیو سرچینو پورې د افغانستان د اوبو د تړاو نسبت ۲۸.۷ سلنه دی، چې دا نسبت د بېلګې په توګه په پاکستان کې ۷۷.۷ سلنه دی او افغانستان له هغو هېوادونو دی چې په پراخه کچه د اوبو سرچینې لري. د دې تر څنګ، افغانستان د سطحي اوبو د زېرمه کولو ښه پوټنشیل لري؛ خو له بده مرغه د اوږدو جګړو او بې‌ثباتیو له کبله دا مهال د اوبو د ذخیره کولو ډېره کمه وړتیا لري او په دې برخه کې د اوبو د زېرمه کولو لومړنۍ تګلارې بیارغونې ته اړتیا لري او ترڅنګ یې له پرمختللې ټکنالوژۍ په ګټې اخیستنې سره د سترو زېرمو د رامنځ ته کولو او سترو او پرمختللو ذخیروي بندونو د پراختیا جدي اړتیا لیدل کېږي. له نورو هېوادونو سره د افغانستان د اوبو د زېرمه کولو د وړتیا پرتلنه په لاندې جدول کې وګورئ.

**دویمه برخه؛ له ایران سره د اوبو د شخړې مخینه**

له ایران سره د هلمند د ګډو اوبو په تړاو ستونزې په نولسمه پېړۍ کې د لویې لوبې مهال ته رسېږي او تر هغه وروسته څو ځله د دغو اوبو په تړاو هوکړې هم وشوې. لومړی ځل په ۱۸۷۱ کال کې د برېټانوي افسر جنرال فرېدریک ګولډزمېډ د افغانستان او ایران تر منځ د هلمند دلتا په اوږدو کې ګډه پوله وټاکله؛ خو د اوبو د وېش په تړاو یې څه پرېکړه ونه کړه. په ۱۹۰۵ کال کې یو ځل بیا برېټانیا په دې قضیه کې مداخله وکړه او د برېټانیا استازي هنري مکمهن د دواړو هېوادونو تر منځ هماغه د ۱۸۷۱ کال تازه کړه؛ خو دا ځل یې د اوبو وېش هم وکړ. نوموړي د هلمند سیند له دریو څخه دوې برخې اوبه یې افغانستان ته ورکړې او یوه برخه یې ایران ته ورکړه. تر ۱۹۳۰ کال پورې همدا تړون عملي شو؛ خو کله چې وچکالي زیاته شوه، دا قضیه یو ځل بیا د ایران او افغانستان تر منځ جنجالي شوه. په ۱۹۳۹ کال کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر او په کابل کې د ایران د سفیر تر منځ بیا تړون لاسلیک شو، چې له مخې یې دواړو لورو ته مساوي اوبه ورکړل شوې. په دواړو اړخونو کې د بې‌باوریو او کانالونو او بندونو جوړولو له کبله د دغه تړون نه عملي کېدل د دې لامل شول، چې په ۱۹۷۰ کلونو کې بیا د اوبو قضیه د دوو اړخیزو اړیکو تووده موضوع وګرځي، چې بالاخره د محمد ظاهرشاه د واکمنۍ په دوره کې د افغانستان له لوري لومړي وزیر محمد موسی شفیق او د ایران له لوري لومړي وزیر امیر عباس هویدا د اوبو د نړیوالو قوانینو پر بنسټ، د ۱۹۷۳ د مارچ په ۱۳مه د هلمند د اوبو دوه اړخیز تړون لاسلیک کړ، چې د همدغه کال د مې په ۳۰مه د افغانستان په پارلمان کې تصویب هم شو او نور ټول قانوني مراحل یې بشپړ شول.

**دوام لري...**

**جدول-۱: د اوبو د زېرمه کولو د وړتیا پرتلنه**

| هېواد/سیمه | د اوبو د زېرمه کولو وړتیا (متر مکعب) في نفر |
| --- | --- |
| امریکا | ۶۰۰۰ |
| چین | ۲۲۰۰ |
| نړۍ | ۹۶۳ |
| ایران | ۳۷۹ |
| اسیا | ۳۵۳ |
| پاکستان | ۱۵۰ |
| افغانستان | ۱۴۰ |

**جدول-۲: د افغانستان د ټولو اوبو تخمیني انډول (میلیارد متر مکعب)**

| د اوبو ناکارول شوي سرچینې | د افغانستان له‌خوا یې کارونه | د اوبو د سرچینې وړتیا | داوبوسرچینه |
| --- | --- | --- | --- |
| ۴۰ | ۱۷ | ۵۷ | د ځمکې د سطحې اوبه |
| ۱۵ | ۳ | ۱۸ | تر ځمکې لاندې اوبه |
| ۵۵ | ۲۰ | ۷۵ | ټولې |


## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### دويمه برخه

### د نړۍ دويم تر ټولو زوړ مسلک




دولت: دا هسې يو وهم دی، زه فکر نه کوم. لکه جنرال صېب چې وويل، موږ چې هر څه کوو، ښکاره يې کوو. په هر صورت، را به ما ته ونه وايې چې څه ووايم او څه نه. زه نه پوهېږم چې اوس په RAW او IB کې څه روان دي. زه له هغو کسانو سره چې په ټلوېزيونونو کې را څرگندېږي، موافق نه يم. ولو که په کتاب کې يې هم يادونه وشي.

دورانی: په دې کچه څوک بايد ملامت نه شي. هېڅوک به د ښاغلي دولت په اړه داسې فکر ونه کړي.

دولت: د هغه امتياز دا دی چې زموږ له لوري يې له يوه افسر سره د ليدنې تجربه درلوده. نوموړي د مشرانو په کچه ليدنې کړې دي. خو ما نه دي کړې. دا زما لپاره ښخې ځانگړې وه، له هغه او بيا د ISI له نورو سيالانو سره ليدنه.

دورانی: پر هغه کس باندې چې د ISI د اجېنټ تور پورې شوی و، وروسته مې ومونده چې زموږ لپاره کار نه کوي.ISI ياد کس نه و گومارلی، نوموړی يو بې گټې او مشکوک سړی و.

سېنها: اشاره يې موږ ته ده.

دولت: زه په دې قضيه کې ښکېل نه وم.

دورانی: يو څوک به هېڅکله د دې ډول کسانو استخدام ته زړه ښه نه کړي، ځکه چې دا ډول کسان استخدام کېدای نه شي. خو کله چې يو کس راولاړېږي او خپله وايي چې زه فلاني ته کار کوم، نو څه ورسره وکړو؟ يوازې ځان مطرح کول غواړي. ما وويل، که څوک تا ته کار کوي، هېڅکله به ونه وايي چې چا ته او څه ډول کار کوي. خو دا هغه څه دي چې پېښېږي! دغه ډول تور د هغه چا پر خلاف لگول کېږي چې کمزوری يا شکمن وي. داسې نه ده چې له پولې را اوښتونکي هر کس باندې د ISI يا د RAW د اېجېنټ شک وشي.

سېنها: تاسو چې کله د ISI مشر وی، د RAW له کوم مشر سره مو ليدلي وو؟

دورانی: له باجپای سره مې په ۱۹۹۱ کال کې په سنگاپور کې وليدل. موږ دوه ورځې خبرې وکړې او بحث مو د هغه وخت پر تحولاتو او پرمختگونو متمرکز و. د بحث اصلي ټکی مو د کشمير پاځون و، ځکه چې په کشمير کې لانجې د ۱۹۹۰ کال په اگست کې ISI ته زما تر راتگ وړاندې سر راپورته کړی و. په اصطلاح د «گېټس ماموريت» څخه وروسته موضوع نوره هم گرمه شوه، چې بيا زموږ د بهرنيو چارو وزارت په نوبت چې زه ټول امتياز هغوی ته ورکوم، د دواړو استخباراتي مشرانو ترمنځ د خبرو زمينه برابره شوه او نږدې شپږ مياشتې مو خبرې اترې روانې وې. کله چې په لومړي ځل له يوه چا سره ملاقات کوې، نو ډېر وخت دې په دې لگېږي چې مقابل لوری لومړی و ارزوې او دا په ډاگه کړې چې څنگه خبرې ورسره وکړې. دا کار تر ډېره په لومړي ځل ليدنه کې نه، بلکې په دويم، درېيم يا څلورم ځل ليدنه کې ترسره کېدای شي، خو لومړی ځل ليدنه تل يوه ستونزه وي. کوم خنډ رامنځته نه شو. موږ وليدل. زه د يو شي په اړه ډاډه وم: د خبرو پر مېز زما مخامخ کس يو باتجربه جاسوس يا مخبر و. هغه د RAW مشر و. هغه به خامخا خپل ژوند په همدې مسلک کې تېر کړی و. هلته يو کس و چې لا يې هم زده کړه کوله، زه فکر نه کوم چې يو څوک دې په يوه کال کې وکړي يا په هغومره وخت کې چې ما په MI او ISI کې تېر کړی دی. زه بايد ډېر محتاط وم.

دولت: جالبه ده چې جنرال صېب وايي زموږ مشران باتجربه او ښه مسلکي دي، په داسې حال کې چې موږ تل په دې نظر يو چې ISI ځانگړی دی. دوی ډېر واک لري او هر هغه څه چې وغواړي کولای يې شي، لکه يوه اصطلاح چې ورته کارول کېږي: د دولت په منځ کې دولت.


دورانی: نو ما او باجپای يو ځل وليدل، خو دې لړۍ بيا دوام ونه کړ. که چېرته دواړو هېوادونو ښه نيت لرلی، نو د ناستو دا لړۍ به په سمه توگه تعقيب شوې وای. خو هغوی نه شوای کولای ځکه چې شکونه او بدگومانۍ زياتې وې. کنه له اې کې ورما سره د حميدگل ناستې او له نورو سره زما ناستې کېدای شوای چې بنستيزې شوې وای. پرته له دې چې د هرې ناستې لپاره وخت اعلان شوی وای. خو هغوی ملاقات نه کوي، هر ځل د مشرانو په کچه ملاقات کېږي او هر ځل له سره پيل کېږي. د دوامداره پروسې په توگه نه وي. داسې نه دي شوي چې د مشرف له څلورو ټکيو څخه يوه انتخاب کړې.

دولت: ځکه چې بهير پوخ شوی نه دی. که فکر کوې چې د استخباراتو مشران د لوړې کچې خلک دي، نو کچه بايد معلومه شي يا د منځنۍ کچې پلاوی دې وټاکل شي. خو پرېږدئ چې ناستې ترسره شي، که بنستيزې شي نو يوه پايله به ترې لاس ته راشي.

دورانی: هغه څوک چې د دولت په دنده پوهېږي دا حقيقت ښه درک کولای شي ځکه چې که د ISI يا RAW مشران د کوم کار ترسره کول غواړي، نو په دې مانا نه ده چې کار به حتماً کېږي. په پرېکړو کې ټولې ادارې ښکېلې وي. **دوام لري...**

# باميان

حشمت الله نوري



باميان د هندوکش د غرونو په جنوب، د بابا د غرونو شمال ته د افغانستان په مرکز کې د سمندر له سطحې درې زره متره لوړموقعيت لري. دغه ولايت د پخواني مدنيت لرونکی دی او د «بنداهش» په نقشه کې د «باميکان» او تر ميلاد مخکې د پنځمې پيړۍ په اثارو کې د «فان يانگ» په نوم ياد شوی دی. په ۶۳۲ ميلادي کال کې د مشهور چينايي سيلاني «هيوان تسنگ» په روايت «فان ين نا» ذکر شوی دی. باميان د افغانستان له ډېرو لرغونو ولايتونو څخه دی چې د بودا دوې ويجاړې شوې مجسمې او بند امير (د افغانستان لومړنی ملي پارک) د هغه په لرغونتوب دلالت کوي. دغه ولايت ډېر زيات سوړ او له واورو ډک ژمی او معتدل او په زړه پورې پسرلی لري او ډېره سړه سيمه يې د پنجاب ولسوالي ده. د باميانو مساحت نږدې ۱۸۰۲۹ کېلومتره مربع دی او ټولټال يې نفوس څه کم درې نيم سوه زره کسانو ته رسېږي.

تاريخي اثار

په باميانو کې له ۱۹۰۰ څخه ډېر مسجدونه او تکيه خانې شته، چې خلک له هغو څخه د عبادتځای او مذهبي مراسمو په نامه استفاده کوي. په دغه ولا يت کې بې له دوو شيعه او سني مذهبونو څخه بل هېڅ مذهب نشته او د باميانو ټول اوسيدونکي د اسلام مقدس دين معتقد او پيروان دي. باميان خپل ځانگړي هزاره گي عنعنات هم لري چې يوه يې پيشپو ده چې په ډله ييزه توگه اجرا کېږي چې ملي اتڼ ته ورته ده. دا په مرکزي سيمو «هزاره جات » کې يو ډول پخوانی او محلي رقص دی چې په ځينو سيمو کې له محلي شعر ويلو سره يوځای او د نڅا په نامه ودونو کې تر سره کېږي. د دې نڅا اجرا يا تر سره کول په دې ډول دي چې لومړی د گل سيب دستمالونه په دواړو لاسونو کې نيسي، کله يو او کله بل لاس ښکته کوي. په همدې حال کې ملا هم د ځمکې په لور ټيټه او جگه کوي او پيشپو ته ورته غږ (صداي مشابه پيشپو) د پيشپو لوبې يا نڅا ته دوام ورکول کېږي. د لومړني گام تر اخيستو وروسته د پيشپو لوبغاړي يا نڅاگر له زوم او ناوې څخه چې په اس سپاره وي، يو دوه گامه مخکې حرکت کوي او يا هم د کړۍ په شکل په کور کې د ناوې پر شاوخوا تاوېږي او يا هم دغه نڅا د ناوې او زوم په تگ لوري د دوی مخ مخ کې دوام مومي.

تاريخي ابدات

د بوډا نړول شوې مجسمې، بند امير، شهر غلغله، شهر ضحاک، چهل برج، دره اژدر، د فيروزبها سيمه، د کليگان استوپه او د چهل برج کلاوې، گوهرگين، کافري او چهل دختران، چهل ستون شهرشاهي د باميانو نورې تاريخي او لرغونې ساحې دي چې د کورنيو او بهرنيو سيلانيانو پام يې ځان ته ور اړولی دی او حکومت او خلک د توريزم له درکه د کال ښه عوايد لاس ته راوړي.

د بودا مجسمې چې ۱۶۰۰ کلنه سابقه لري، د بوديزم د وخت يو شهکار دی. د صلصال ستره مجسمه د ۵۳ مترو په لوړوالي او د شمامي په نوم کوچنۍ مجسمه د ۳۵ مترو په لوړوالي د غره په زړه کې توږل شوې، چې د وربښمو د پخواني واټ په تگ لوري د باميانو ښار د شمال په نږدې درې کېلومترۍ کې پراته دي. بودايانو له ۲-۵ ميلادي پېړيو کې ژوند کاوه. د طالبانو د حکومت په وخت کې په دې نامه چې د بتانو موجوديت د شرک په مانا دی، د دوو شپو ورځو پرله پسې حملې او درنديې گلوله بارۍ له امله د ۲۰۰۱ کال د مارچ په يوولسمه ويجاړکړل شول .

دغه دوې مجسمې د نړۍ د عجايبو په حيث د ملگرو ملتونو د فرهنگي سازمان (يونيسکو) سره ثبت دي. بند امير، شهر غلغله، شهرضحاک او د بودا د شاوخوا مغارې هم د تاريخي او لرغونو ساحو په حيث له يونيسکو سره ثبت دي. د المان د (ايکوموس) د لرغون پېژندنې موسسې هم د دريو ميليونو ډالرو په لگښت د بودا د مجسمو شاوخوا څنډې کلکې کړې دي او توانيدلي چې د هغو په زرگونو ټوټې وپېژني او له نمرې وهلو وروسته يې په ځانگړي ځاي کې وساتي. د بودا له جسمونو څخه ځينې جلا شوې ټوټې له ۹۰ څخه تر ۱۰۰ ټنو پورې وزن لري. خلک وايي چې د بودا مجسمې بايد بيا ورغول شي .

همدغه راز د ۱۳۸۶ کال په کنفرانس کې چه د يونيسکو، جاپان، فرانسې او د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت په گډون د المان د برلين په ښارکې جوړشوی و، تصميم ونيول شو چې بايد د بودا مجسمې په هغه صورت کې چې د هغوی په سلو کې پنځوس ټوټې او د هغوی لوېدلي مواد بشپړ شوي وي، بيا دې په پخوانۍ بڼه ورغول شي. جاپان د بودا مجسمو د بيا رغاونې لپاره تر سلو ميليونو زياتو ډالرو وعده کړې ده. د بودا د مجسمو له ويجاړېدو وروسته جاپاني هنرمند ياماگاتا د بودا د مجسمونو د بيارغاونې لپاره له جاپانيانو پيسې را ټولولې او تصميم يې درلود چې د بودا انځورونه په هماغه ځای کې چې پراته دي، بيا ورغوي. ياماگاتا ويلي وو چې تر دېرشو ميليونو ډالرو پورې بوديجه يې د لايزر وړانگې د ورکولو لپاره پر غاړه اخيستې ده او خلک به تر راتلونکو دوو کلونو پورې د بودا تصويرونه په هماغه پخواني ځای کې ويني.

دغه هنرمند غوښتل چې ځينې تصويرونه د لايزر په څوارلس سيستم سره د باميانو د غره پر لويو ډېرو باندې وځلوي، چې د دوو بوداوو د اندامونو د انځور پر مجسم کېدو سربېره د سيمې د اوسيدونکو لپاره د برېښنا انرژي هم توليد کېدله. د افغان او فرانسې د لرغون پېژندونکو ټيم د بودا د مجسمو مخامخ کېندنې هم درلودې چې تر اوسه يې له ۱۵۰ ډېر لرغوني او تاريخي اثار تر خاورو لاندې کشف او لاس ته راوړي دي. د دغو موندنو ډېر مهم اووه استوپې د مجسمو روغ سرونه، نيم تنه مجسمې او ناست بودا، ډول ډول تيکرونه (ختين کلالي لوبې) توږل شوې ډېرې او د بودا د دورې د سرو او سپينو زرو سکې تشکېلوي.

استوپه هغه ځای ته وايي چې د بودا زيارت کوونکي (زائرين) په هغه کې خپله نزرانه راټولوي. بودايانو په ۲-۵ ميلادي پېړيو کې ژوند کاوه. کورنيو او بهرنيو لرغون پېژندونکو د لسو کالو کېندنو په اوږدو کې يو ۱۹ متره تقريباً کوږ يا څملاستلی بودا هم د بودا دوو ويجاړو شويو مجسمو په مخکينۍ برخه کې د افغان او فرانسې د لرغون پېژندونکو ټيم په واسطه کشف شو.

زمريالی طرزي افغاني الاصله فرانسوی لرغون پېژندونکی چې د دغه ټيم لارښوونه کوي وايي، چې دی د يو ۳۰۰ متره کوږ بودا د کشف په باره کې هم تحقيق او کېندنې کوي. د چينايي زيارت کوونکي «هيوان تسنگ» کتاب ته په کتو، په باميانو کې يو ۳۰۰ متره کوږ بودا موجود دی چې موقعيت يې مشخص نه دی، چې د ويجاړو شويو بوداگانو په کومه برخه کې پروت دی. لرغون پېژندونکي تر اوسه هم په دې باور دي چې د هيوان تسنگ د معلوماتو له مخې، ۳۰۰ متره بودا هلته شته او دا په دې دليل چې تر اوسه د دغه چينايي زايرد کتاب هيڅ کوم مورد شکمن نه دی راوتلی .

د پورته ياد شويو دوو مجسمو په شاوخوا کې د بوديزم د وخت څه ناڅه درې زرې مغارې هم تر سترگو کېږي، چې تر اوسه په سلگونو بې سر پناه کورنۍ په ځينو دغو مغارو کې له فقر او تنگ لاسۍ سره ژوند تېروي .

بابا غر

د بابا غر او کوه عروس د باميانو تر ټولو لوړو غرونه دي. د بابا د غره لوړه څوکه د شاه فولادي په نوم يادېږي چې ۵۱۴۷ متره د سمندر له سطحې جگه ده او د باميانو د مرکز په جنوب کې واقع شوې دي. د دغه غره په لوړو څوکو کې د اوبو څلور طبيعي ډنډونه له ۱۰ تر ۱۲ مترو په ژورتيا او له ۱۲ څخه تر ۱۵ جريبه ځمکې په مساحت شته چې د هر ليدونکي پام ځان ته ور اړوي. د بابا غر په ۱۳۹۱ کال په رسمي توگه د ملگرو ملتونو د ساتل شويو ساحو په لېست کې ځای نيولی دی. له ۱۳۸۷ کال راپدېخوا د سکې لوبې د بابا د غره په لمنو کې رواج پيدا کړی، چې د بهرنيو سکې لوبغاړو (سکې بازان) په خبره، په افغانستان کې د سکې لوبې لپاره ډېر مناسب ځای باميان گڼل کېږي. د لومړي ځل لپاره دوولس کورنۍ او بهرنۍ ښځې په ۱۳۹۰کال کې د بابا د غره په لمنو کې د سکې لوبې لپاره راووتې او د باميانو ټيم د لوبو گټونکی شو. وروسته دغه غره ته امريکايي غره ختونکي هم راغلل او غره ته وختل. په باميانو کې موزيم نشته. ټول لرغوني اثار چې په وروستيو لسو کلونو کې د فرانسوي، الماني او جاپاني ټيمونو د کېندنو په پايله کې کشف شوي دي، د دغه ولايت د هيئت په واسطه مهر او لاک شوي دي. په سلگونو قلمه تاريخي اثار د لسگونو مجسمو او د مجسمو د سرونو په گډون په دغه ولايت کې کشف شوي دي او هم د اسلامي او بودايي دورو په سلگونو قلمه سکې په باميانو کې موجودې دي. ولې د موزيم د نشتوالي په سبب دغه ټول اثار د خلکو له ليدو څخه لرې په پټو ځايونو کې قفل کړای شوي دي او د گارد يا محافظينو په واسطه ساتل کېږي. ټاکل شوې وه چې د نه لېرد وړ موزيمونه د کشف شويو اثار او د پاسه لکه بودا ۱۹ متره مجسمه او کشف شويو استوپو باندې جوړ شي، ولې تر اوسه په دې لاره کې عملاً اقدام نه دی شوی.

په باميانو کې ۱۶ سپورتي فدراسيونونه فعال چې د ۷۰۰ ښځينه ورزشکارانو په گډون، ۱۲۷۴۹ تنه د باميانو په سپورتي آمريت کې ثبت دي. ميداني رزمي بېلابېلې لوبې لکه وزلوبه، شطرنج ، سکې بازۍ او غره ختل په دغه ولايت کې خپل مينه وال لري. په دغه ولايت کې له ټولو زيات وزلوبه له سنتي او دوديزو سپورتونو څخه گڼل کېږي.

## همیانۍ

# څنګه له ستونزو بریالي را ووځو؟

ژباړه: حمیدالله حمیدي

د یوې ستونزې سختوالی او پېچلتیا د هغې ستونزې پر لویوالي پورې اړه نه لري، بلکې په هغه وزن پورې اړه لري چې موږ او تاسو یې د خبرو له لارې دې ستونزې ته ورکوو. زه اکثره وخت خپلې حللارې هغه وخت پیدا کوم چې خپلې ستونزې تر ټولو ساده او اسانه په نظر کې ونیسم. په اصل کې لومړی له ځانه پوښتم چې: «زما له نظره د حللارې د پیل او پای ټکی کوم دی؟ د خپلو سترګو پر وړاندې ستونزې ته نظر اچوم او د حللارو پر لټولو ټینګار کوم. خو ځان د یادې ستونزې تر اغېزو لاندې نه راولم. پوهېږم چې که هره ستونزه تر ټولو ساده په پام کې ونیسو، د درک او پوهېدو وړ ګرځي او هره د پوهېدو وړ ستونزه او موضوع کولای شو په اسانۍ سره حل کړو.»

ډېرې کسان دومره په یوه ستونزه کې را ګیر کېږي چې دا یې له یاده وځي چې ګواکې دغه ستونزه د یوه لوی سفر برخه ده. موږ ټول د ازمایښت او تېروتنې له اصطلاح سره اشنا یو، خو لا هم د یوې موضوع د کره کتنې لپاره له پوره صبر او استقامته برخمن نه یو.

ران کلېن له نوموړو ساده تګلارو په ګټې اخیستنې وکولای شول چې داسې اختراعګانې وکړي چې زموږ ډېرو د ژوند د بدلون او ساده والي لامل شوې.

کله یې چې ترې وپوښتل چې څه ډول د اعتباري برېښنايي کارتونو د رامنځ ته کولو فکر ور سره پیدا شو، هغه ځواب ورکړ چې هغه مهال د پلورنځیو او رستورانتونو پېرودونکي د نغدو پیسو، ورځنیو حسابونو، راکړې ورکړې او پېر او پلور په برخه کې له لویو سرخوږیو سره مخ و او دا چې د هرڅه لپاره یې باید نغدې پیسې له ځان سره لېږدولې وای، پلورونکي د پورونو له لویو لېستونو تر پوزې راغلي وو. هماغه وو چې فکر مې وکړ اړینه ده چې داسې ساده او اسانه حللاره رامنځ ته شي چې خلک په اسانۍ سره وکولای شي خپلې ورځنۍ چارې له ځنډ او خنډ پرته پر مخ بوځي. په لومړیو کې به خلکو ته پلن پلاستیکي کارتونه ورکول کېدل چې اعداد پرې په لویه بڼه حک شوي وو. کله به چې یو پېرودونکي څه شی اخیستل، پلورونکو باید په لاسي بڼه د ټولو پېرودونکو لېست چک کړی وای چې مطمین شي د هغه نوم د اخطاریې او یا پوروړو په لېست کې نشته. دغه تګلاره تر ډېره وخته نیوونکې وه او په ځانګړې توګه د رخصتیو په ورځو کې یې خلک د وخت له کموالي سره مخ کول.

ران فکر وکړ چې کولای شي دغه ستونزه له یوې ساده تګلارې په ګټه اخیستو حل کړي. هغه د کار د اسانتیا لپاره فکر وکړ چې پلاستیکي کارتونه باید برېښنايي کړي. هغه لومړی په کارتونو باندې کوډ لرونکي سوري را منځ ته کړل چې د کارت د حساب شمېرې ښودونکي وو. وروسته یې بله غوره نظریه ذهن ته راغله. هغه په کارتونو باندې د معلوماتو د ضبط په خاطر زېړه مقناطیسي اوسپنه وکاروله چې دغه کار تر هغه وخت پورې بې ساري و. نوموړی دې پایلې ته ورسېدلی و چې که چېرې دغه زېړه اوسپنیزه مقناطیسي برخه په کارت ونښلوي او د کارت اړوند شمېره په همدې برېښنايي زېړې اوسپنې ضبط کړي، کولای شي کارت په یوه شمېره لوستونکي ماشین کې دننه کړو چې د کارت اړوند شمېره د ماشین حافظې ته ولېږدول شي. د ران دغې نظریې نتیجه ورکړه، نوموړی هغه شرکت ته ورغی چې پلاستیکي اعتباري کارتونه یې تولیدول. له هغوی یې وپوښتل چې غواړې په کارتونو مو یوه مقناطیسي- برېښنايي اوسپنه ولګوی؟ هغوی وویل: که چېرې کوم څوک دا کار وکړي، ښه راغلاست ورته وایو. هماغه وو چې د لومړي ځل لپاره د پېرودونکو لپاره ځیرک اعتباري کارتونه اختراع شول.

ران په مرکه کې پر خپله څوکۍ تکیه کړې وه او په پوره ویاړ سره یې وویل: «پوهېږئ چې د تګلارو د پیدا کولو راز په څه کې دی؟ یوازې دا چې د هغوی په لټه کې و اوسو.» د هغه ستراتیژي څه وه؟

نوموړی وایي: «ما هڅه کوله چې هره ورځ نوي څه زده کړم، د خپل ژوند او چاپېریال په نسبت حساس و اوسم او خلکو ته ارزښت ورکړم. یو ځل بیا وایم، هر چېرته چې ستونزه موجوده وي، حللاره او تګلاره هم شته او دا هغه څه دي چې زه یې تل په لټه کې یم. زه د تل لپاره د پیل ټکی (پرابلم یا مسئله) څېړم او ارزوم یې او وروسته د پای ټکي (د ستونزې یا مسئلې د حللارې) په لور ورځم. دا هماغه د کار اساسي موخه ده او له دې ور هاخوا نور هر څه بې ارزښته دي.»

ران له خپل لاسي بکسه یو دایرة المعارف (هغه اثر چې د علومو مختلفې څانګې پکې څېړل شوې وي) را وویست، هغه یې په خپل لاس کې پورته ونیو او ویې ویل: «وګورئ، کوم کار چې ما وکړ هغه دا و، هغه مخونه چې د «سختۍ» نوم پکې راغلی و، څیرې مې کړل او لرې مې واچول او هغه مخونه چې د «ستونزې» نوم پکې راغلی و، له ځان سره مې وساتل.

په یاد ولرئ، هر چېرته چې ستونزه موجوده وي، حللاره هم شته. د تګلارې او حللارې موندلو کیلي دا ده چې هېڅکله شا ته مه ګورئ او د تېر په اړه فکر مه کوئ، بلکې د تل لپاره مخ پر وړاندې لاړ شئ، دا چې نه پوهېږئ چې څومره بریا ته نږدې شوي یاست، کېدای شي څو متره وړاندې هغه شتمني او خزانه وموئ چې په لټه کې یې یاست.» دغه حقیقت زموږ ډېرو په اړه صدق کوي.

ریښتیني لاسته راوړنه د استقامت او هیلو په لور له ګام اخیستلو سرچینه اخلي. هر کله چې د بریا په لور روان یاست، هرو مرو به بریالي کېږئ. همدومره کافي ده چې یوازې د پرمختګ په اړه فکر وکړئ او مطمین اوسئ چې د لارې په اوږدو کې مو د بې ارزښته موضوعاتو له امله لاس او پښې ونه تړل شي.

فکر وکړئ چې له کابله د هرات په لور روان یاست. پوهېږئ چې د پیل ټکی کوم دی او د موخې په اړه هم پوره معلومات لرئ. په ګاډي کې سپرېږئ او حرکت کوئ. تر هغه چې د پیل او مقصد ټکي ستاسو په ذهن کې وي، هر هغه خنډ چې د لارې په اوږدو کې ور سره مخ کېږئ، کېدای شي ګڼه ګوڼه وي، کېدای شي د موټر ټایر مو پنچر شي او یا بل هر څه چې وي، ستاسو لپاره بې ارزښته دي. ځکه چې په هر حالت کې تاسو خپل حرکت ته دوام ورکوئ او د خپلې موخې پر لور روان یاست. که چېرې پر هغو ستونزو سربېره چې ور سره مخ کېږئ، پر هغې لاسته راوړنې ټینګار وکړئ چې په پای کې مو په برخه کېږي او خپل پرمختګ ته دوام ورکړئ، له سختیو پرته به خپلې موخې ته ورسېږئ.

ران په داسې حال کې چې په څوکۍ کې ناست و، په غرور سره یې وویل: «نور خلک هم په خپلو هیلو او خوبونو کې شریک کړئ، د خپلو نظریاتو، پوښتنو او موخو له شریکولو مه وېرېږئ. لکه څنګه چې د لارې په اوږدو کې مو ګاډی خرابېږي او له یو مستري سره اړیکه ټینګوئ، لکه څنګه چې یوه پته درنه ورکېږي او له یو چا غواړئ چې لارښوونه درته وکړي، همدارنګه د ژوند د سفر په اوږدو کې هم داسې کسان شته چې د مرستې لپاره تیار دي. ټول بریالي انسانان په دې پوهېږي چې په یوازې ځان نه شي بریالي کېدای او د بریا لپاره یوې ډلې ته اړتیا لري. تاسو د هغه کس په توګه چې خپلې موخې لرئ، د یوې ډلې مشري پر غاړه واخلئ.»

ریښتیني مشران په خپل ژوند او کسب و کار کې یوه ګډه ځانګړتیا لري: د هر ډول اور تر لمبو لاندې بیا هم ارام او صبر لرونکي دي.

د یوه رهبر او مشر دنده دا ده چې کله شرایط د تمې خلاف سختېږي، پیاوړی او ثابت پاتې شي. د یو مشر او رهبر کړنې د تل لپاره د خپل رعیت تر څارنې لاندې وي، داسې چې کله ستونزې رامنځ ته کېږي او د نورو د وېرې لامل کېږي، مشر او رهبر د وېرېدو او له هر څه نه د لاس په سر کېدو لپاره وخت نه لري. په ګواښونکو شرایطو کې زموږ ټولو تمه له مشر او رهبره ده چې لارښوونه راته وکړي. تاسو باید د یو مشر په توګه پیاوړي او د اتکا وړ اوسئ، ځکه چې اړتیا ده چې ستاسو پیروان په دې پوه شي چې کولای شي پر تاسو باور وکړي. نو پر دې اساس، له ارامتیا او ثابت قدمۍ سره یو ځای د ځواک او پیاوړتیا درلودل، له ستونزو او خنډونو سره د مخ کېدو پر مهال د یو مشر او رهبر ځانګړتیا ده.

## د ملکیانو د خوندیتوب ډله: د جګړې ښکېلې خواوې دې ژر تر ژره اوربند وکړي

د ملکي وګړو د خوندیتوب ډله وايي، د ملګرو ملتونو امنیت شورا باید د افغان جګړې پر ښکېلو اړخونو فشار راوړي، څو د ملکي افغانانو له وژلو او ځورولو لاس واخلي.

د دې ډلې یو شمېر غړو او مدني فعالانو په مزارشریف ښار کې د یوه اعتراضي حرکت پر مهال له افغان حکومت او طالبانو په ټینګه وغوښتل چې سملاسي اوربند وکړي.

په بلخ کې د ملکي وګړو خوندیتوب ډلې یوه غړي سید محمد یزدان پرست رسنیو ته ویلي چې د امریکا- طالبانو ترمنځ له توافق ۹ میاشتې تېرېږي، خو په خبره یې، د دې پر ځای چې تاوتریخوالی کم شوی وای، جګړه نوره هم ډېره شوې ده.

یزدان پرست زیاته کړې چې په افغان جګړه کې هره ورځ په اوسط ډول ۱۸ ملکي افغانان وژل کېږي. هغه ویلي: «دوې میاشتې او ۱۸ ورځې وشوې چې بین الافغاني مذاکرات پیل شوي، خو د دې پر ځای چې د جګړې پر ډګر مثبت تاثیر وکړي، بلکې منفي اغېز یې کړی او د افغانانو په وژلو کې زیاتوالی راغلی دی.»

د ده په خبره، د هېواد په لویو ښارونو کې د مطرحو ټولنیزو څېرو په نښه کول، خطرناکه لوبه ده چې په دې وروستیو کې پیل شوې ده. یزدان پرست له حکومت او طالبانو دواړو وغوښتل چې که ژر تر ژره یوې هوکړې ته ونه رسېږي، نو درېیمه وینې تویوونکې ډله به د افغانستان د جګړې ابتکار په لاس کې واخلي.

نوموړي پر طالبانو نیوکه وکړې چې له امریکایانو سره یې سوله کړې او د افغانانو وژلو ته یې دوام ورکړی دی. د بلخ ټولنیز فعال غلام رسول ملکزي په خپلو خبرو کې ویلي چې له هر څه مخکې په هېواد کې د یوه سملاسي اوربند اړتیا ډېره ده.

د هغه په وینا، که د افغان جګړې هر لوری د سولې روانه پروسه ځنډنۍ کوي، نو د افغانانو د وژنو مسوولیت یې پر غاړه دی. ملکزي زیاته کړې، له یوې خوا د هېواد په ګڼو ولایتونو کې سوړ موسم پیل کېدل او بل لور ته د جګړو له امله د افغانانو بېځایه کېدل او زیانمنېدل، لوی ناورین دی.

هغه په کابل او یو شمېر نورو ولایتونو کې وروستیو هدفي وژنو ته په اشارې ویلي چې که حکومت او طالبان هر څومره د سولې روانه لړۍ ځنډوي، په هماغه اندازه یې ګټه نورو وسله والو ډلو ته رسېږي.

## ولسي جرګه: د ملکي افغانانو وژونکي بهرني ځواکونه باید محاکمه کړل شي

د ولسي جرګې غړي وايي، ټول هغه بهرني سرتېري باید محاکمه شي چې په افغانستان کې په جنګي جنایتونو کې ښکېل دي. د ولسي جرګې غړو د پرونۍ غونډې په امتیازي ساعت کې د خبرو پر مهال وویل چې په دې وروستیو کې د ځینو بهرنیو سرتېرو د جنګي جنایتونو په اړه راپورونه خپاره شوي دي.

دوی وايي، نړیوالې محکمې او د بشري حقونو په برخه کې فعال بنسټونه باید دغه جنایتونه وڅاري او په اړه یې خپل دریځ روښانه کړي. د ولسي جرګې غړو دغه راز د هغو هېوادونو له حقوقي فعالینو او محاکمو هم د عدالت غوښتنه کړې چې سرتېري یې په افغانستان کې په جنګي جنایتونو کې ښکېل دي. په دې وروستیو کې په استرالیا کې یوې څېړنې موندلې چې د دغه هېواد سرتېري په افغانستان کې په جنګي جنایتونو او د ملکي وګړو په وژلو کې ښکېل وو. دوی تر دې دمه ۳۹ داسې قضیې څېړل شوې چې په هغه کې استرالیايي ځواکونو په اروزګان کې د خپل ماموریت پر مهال ملکي وګړي وژلي دي. د استرالیا حکومت د دغه قضیو د څېړلو او عدالت ژمنه کړې ده.

په دې وروستیو کې ډېلي میل ورځپاڼې یو راپور هم خپور کړ چې پکې ویل شوي چې په افغانستان کې د استرالیايي ځواکونو له خوا د جنګي جنایتونو په اړه د راپورونو تر خپرېدو وروسته، په دغو جنایتونو تورنو نهو سرتېرو یې ځان وژنه کړې ده.

په افغانستان کې د استرالیايي ځواکونو له خوا جنګي جنایتونو په کور دننه او بهر د ګڼو هېوادونو او د بشري حقونو د مدافع بنسټونو غبرګونونه هم راپارولي او د یاد هېواد له حکومت یې غوښتي چې په دې اړه دې جدي څېړنې وکړي او سرغړوونکي یې دې مجازات کړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۹۱,۱۰ |
| Rp. | ۴۸۰ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۱ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com


0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




دوشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ لسمه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۳۰مه | ٦۳۷مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | ۱٦ | ۱۵ | ۱۲ | ۲۳ | ۱۲ |
| ۲ | ٤ | ۵ | ۲ | ۸ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱۳ | لمر ختل ۰٦:٤۰ | ماسپښین ۱۱:٤۳ | مازیګر ۰۲:۲۵ | ماښام ۰٤:٤٤ | ماخوستن ۰٦:۱۳

## نړۍ




## راپورونه: زرګونو کسانو په فرانسه کې د نژادپالنې او نوي امنیتي قانون پر ضد لاریونونه پیل کړي



د راپورونو له مخې، په ټوله فرانسه کې زرګونو کسانو د نوي امنیتي قانون پر خلاف لاریونونه کړي دي.
په فرانسه کې دا تازه کړکېچ وروسته له هغې زیات شو، چې په یوه خپره شوې ویډیو کې پولیس په پلازمېنه پاریس کې د موسیقۍ د یوه تورپوستي پروډیوسر د وهلو او ښکنځلو په حال کې ښکاري.
لاریونوالو له حکومته د هغه امنیتي قانون د فسخه کېدو غوښتنه کړې چې له مخې یې، د پولیس افسرانو د څېرو خپرولو لپاره د خبري رسنیو حق محدودېږي.
په زرګونو کسان د پلازمېنې پاریس په مرکزي میدان او شاوخوا سړکونو کې راټول شوي وو، د فرانسې درې رنګه بیرغونه او د پولیسو د زور زیاتي په اړه یې شعارونه لېږدول .
د لاریونوالو په منځ کې ځینو مخ پټو کسانو خنډونه ودرول او اور شیندونکي وسایل یې وکارول، خو پولیسو د هغوی د تیت او پرک کولو لپاره اوښکې بهوونکي ګاز څخه کار اخیستی دی.
دا په داسې حال کې ده چې د فرانسې ولسمشر امانویل مکرون تېره جمعه ویلي وو چې د دغه تورپوستي د ډبولو تصویرونه د شرم وړ دي.
مکرون په ټویټر کې لیکلي: «فرانسویان باید د کرکې یا هم نژادپالنې پراختیا ته هېڅکله اجازه ورنه کړي».

## ترکیه: په هر حالت کې د فلسطینیانو ملاتړ ته دوام ورکوو

د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر مولود چاوش اوغلو ویلي، هېواد یې له فلسطین سره اوږه په اوږه ولاړ دی او د فلسطینیانو د حقونو د تحقق په موخه خپلو هڅو ته دوام ورکوي.
نوموړي زیاته کړې، دوی له ټولې اسلامي نړۍ سره خواخوږي لري، خو فلسطین چې له هره اړخه ځپل شوی او له کلونو راهیسې د اسراییل له لوري ورسره ظلم کېږي، دوی به یې هېڅکله یوازې پرې نه ږدي. اوغلو له فلسطیني وګړو سره د همغږۍ د نړیوالې ورځې په مناسبت په خپاره کړې پیغام کې دغه راز ویلي، ترکیه به په هر حالت کې د فلسطینیانو ملاتړ ته دوام ورکړي. په ورته وخت کې د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوترېش بیا په فلسطین کې د اسراییل له لوري د انساني ضد کړنو له غندلو پرته ویلي چې له فلسطین سره به خپلو همکاریو ته دوام ورکړي.
دا په داسې حال کې ده چې له کلونو راهیسې اسراییل یو شمېر فلسطیني سیمې نیولې او خپلو وګړو ته پکې مېشت ځایونه جوړوي. د اسراییلو دغه کار په فلسطین سربېره د ګڼو هېوادونو له لوري غندل شوی او له دغه هېواده یې غوښتې چې ژر تر ژره دې په فلسطیني سیمو کې د کورونو جوړول ودروي.


## وزارت خارجه: سازمان همکاری های اسلامی خواستار عاجل آتش بس در افغانستان شد



وزارت خارجۀ افغانستان می گوید که سازمان همکاری های اسلامی، با صدور قطعنامه ای از مردم و دولت افغانستان حمایت نموده و از طالبان خواسته است تا خشونت ها را کاهش داده و به تأمین عاجل آتش بس، توافق نمایند.
در خبرنامه مطبوعاتی این وزارت آمده است که دولت جمهوری اسلامی افغانستان، از حمایت سازمان همکاری اسلامی و کشورهای عضو استقبال میکند.
منبع افزوده است که سازمان همکاری اسلامی، با اصدار قطع‌نامه‌های متعدد به شمول قطع‌نامه ۴۷/۴ در مورد وضعیت افغانستان، قطع‌نامه ۴۷/۴۴ در مورد جنایات داعش، و قطع‌نامه ۴۷/۵ در مورد ابتکارات منطقه یی در حمایت از افغانستان که در ۴۷ همین نشست شورای وزرای خارجه سازمان همکاری اسلامی به تاریخ ۷ و ۸ قوس سال جاری در شهر نیامی کشور نایجیریا برگزارگردیده بود، حمایت قاطعش را از مردم و دولت افغانستان اعلام نموه است.
در ادامۀ خبرنامه آمده است که سازمان همکاری اسلامی، از علما و نهادهای مذهبی در سرتاسر کشورهای عضو این سازمان خواست تا جنگ در افغانستان را تحریم و در حمایت از مذاکرات صلح، موضع گیری نمایند.
منبع افزوده است که با حمایت واضح کشورهای عضو از مذاکرات صلح، این قطعنامه ها با صراحت تمام از آغاز مذاکرات صلح استقبال نموده و از اقدامات دولت افغانستان در زمینۀ افاده ژست های سازنده به خصوص رهایی زندانیان طالبان، قدردانی نمودند.


## ژوند

## سامسُنګ دوه ارزان بیه موبایلونه وړاندې کوي



سامسُنګ کمپنۍ د ګلکسي اې لړۍ دوه عادي ځانګړنې او ارزان بیه لرونکي ځیرک موبایلونه معرفي کوي. دغه دواړه ځیرک موبایلونه به د ۲۰۲۱ کال په پیل کې خرڅلاو ته وړاندې شي. د سامسُنګ کمپنۍ دغه ځیرک موبایلونه ګلکسي اې۱۲ او ګلکسي اې۰۲ اېس نومول شوي دي. دغه ځیرک موبایلونه د ګلکسي اې۱۱ غوره او نوې بڼه ده او د ۲۰۲۱ کال په جنورۍ کې به خرڅلاو ته وړاندې شي. دغه ځیرک موبایل کې ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې چې له ۱۵ واټ چټک چارج څخه د ملاتړ وړتیا هم لري. د ګلکسي اې۱۲ کامرې هم د تېر کال په پرتله غوره او پیاوړې دي. شاتنۍ برخه کې څلور کامرې لري چې ۴۸ مېګاپکسله اصلي کامره، ۵ مېګاپکسله الټراوایډ اېنګل، ۲ مېګاپکسله مکرو او ۲ مېګاپکسله ډېپت سېنسر په کې شامل دي. د سیلفي لپاره یوه ۸ مېګاپکسله وړتیا لرونکې کامره هم لري.

## د نارنجو فصل او ګټې یې



سره له دې چې د نارنج بېلابېلې برخې خوراکي پروسه او میوه‌یي ارزښت لري، له دې سره سره یوه درملیزه مېوه هم ګڼل کېږي. نارنج په لوړه اندازه د سي ویټامین لري، د خوړو د خوند ښه کولو لپاره ګټه ترې اخیستل کېږي، د نارنج پوستکی د ډېرو ناروغیو لپاره ګټور دی، د نارنج پاڼې د هاضمې سیستم برابروي او اشتها ډېروي. د کولمو میکروبونه له منځه وړي او د روحي فشار په ختمېدو کې ډېره مرسته کوي، د وینې غوړوالی (کلسټرول) له منځه وړي، د زړه روغتیا تامینوي، د انسان پوستکی نورمال او له بې‌وخته زړېدو ساتي. که یو نارنج واخلئ او نرۍ نرۍ ټوټې ترې وباسئ او پر خپل پوستکي باندې یې کېږدئ او د ډېرش دقیقې وروسته یې په اوبو پرېمنځئ، پوستکی ته مو بې‌درکه ډېره ګټه رسولای شي. د سترګو لید روښانه کوي، د سرطان د مضرې ناروغۍ وقایې ته مثبت ثابتېږي او د قبضیت د له منځه وړلو لپاره هم ډېر ګټور دي. له دې سره سره د وینې فشار پرې مهارېږي، هغه کسان چې وینه یې ډېر غلظت لري، د نارنج شربت دې وڅښي، که د نارنج له پاڼو څخه چای جوړ کړئ او ویې څښئ، اشتها به مو زیاته او د هاضمې ځواک به مو هم غښتلی کړي.

